# ټپه د پښتون کردار ساتنه

ډاکټر دانش بيټنی*

**Abstract:**

Researchers are of the view that folk poetry is the Primitive from of any literature. Similarly tappa,a genere Pashto folk poetry, is considered the very first gener of Pashto literature.it is also believed that tappa is very similar to Aryan's poems. As Pashtuns are also believed to be Aryans, hence their cultural values and tradition also seems to have roots in Aryan's period. The writer of this paper investigates the assorted aspects of Pashtun's life in Tappa.

الله تعالی د پښتو ټپې وجود په داسې معنٰی خېز شکل کښې د پښتنو لويو، وړو، نر او ښځو په ذهن او زړهٔ باندې نقش کړی دی چې د هر ذي شعور پرې ګمان داسې پيدا شي چې ګني ټپه او پښتانهٔ د پخوا راهيسې د يو وخت نه را روان دي، يعنې چې کله د پښتون وجود الله تعالی تخليق کړو نو ورسره ورسره يې پښتو ټپه هم د پښتنو ذهنونو او تخيل کښې کښېنوله. پروفيسر محمد نواز طائر د ټپې او پښتون تاريخ په حقله ليکي:

"د ټپې تاريخ د پښتون وګړي او پښتو ژبې تاريخ دی. دا د دې ژبې د شعر يو لرغونی صنف دی. دومره زوړ او دومره پخوانی چې د زمانې تعين يې ډېر ګران دی او څهٔ رنګ چې د پښتنو د اصل نسل، ژبې او تاريخ لرغوني بابونه د هېر او ورکې په تيارو کښې غائب دي، دغه شان د پښتو ادب دا صنف هم د پخوانو ادوارو په پړده کښې پټ پروت دی"(1).

د پښتنو حجره، جمات، هر ښهٔ او بد محفل د نر او د ښځو په دې ټپه نهٔ يوازې ودان او ښايسته دی بلکې سبق اموز هم دی. د پښتني معاشرې خد و خال دومره په ښکلې پيرايه کښې او په دومره لږو ټکو کښې چې ټپه بيانوي نو چا په حقه ويلي دي چې: "پښتانهٔ ټپه د متل په ځای هم په کار راولي. پروفيسر

*په پښتو اکيډيمۍ پېښور کښې فوکلور سپيشلسټ دی.

ډاکټر راج ولي شاه خټک په خپل کتاب "د پښتو ادبي تحريکونه" کښې په دې حقله ليکي:

"د پښتون تمدن د هر اړخ عکاسي په ټپه کښې شوې ده. رسمونو، دودونو، دستورونو، عشق و محبت د کر کيلې د جنګ او امن د وخت د غرۀ راغۀ د ژوند د شپونتوب د کار او نورو ډېرو کارونو او کبونو په حقله ټپې ويلې شوې دي چې د پښتون تهذيب هر اړخ او مزاج په کښې ښکاره دی. د ډېرو تاريخي پېښو او جنګونو نه سيوا د انفرادي مړانې او کارنامو په سبب د تهذيب د بېلو بېلو غازيانو نومونه هم په ټپو کښې راغلي دي چې د موقعې په مناسبت د متل په توګه ويلی شي"(2).

ميانـــــــــدې دي داســـــــــې زامـــــــــن راوړي
لکــــــه رامــــــداد چـــــې راښېــــــزي را وړی وونــــــه

پــــــــه ډول او ډال کښـــــــــې حمــــــــزه خــــــان وې
کـــــور تـــــه دي لاړم مــــــور دي لنـــــګ وهلــــــی وونــــــه (3)

د پښتنو خپور وور وجود د ژوندانۀ تنګ دستي د خپل خاص مزاج او غريزه خاوره، رسمونه، رواجونه، نرخونه او نورې ډېرې د ژوند کشالې، معاملې که په پوره ډول د سترګو او ذهن ته څوك وړاندې راوستل غواړي نو يقيناً چې دغه کار بغير د پښتو ټپې نه بل شعري صنف نۀ شي کولی.

د کرکيلې نه واخله تر ژرندې پورې د ښاروو نه واخله تر ګودر، وادۀ، ښادي، پورې دا ټولې خبرې د پښتنۀ د زيست روزګار د شپو ورځو سره پيوست د دې خاورې د وګړو د ژوند د اندازې ننداري او نګازې يا روزنې امتيازات او اعزازات دي. پروفيسر ډاکټر سلمیٰ شاهين په دې حقله داسې ليکي:

"ټپه د پښتون اولس د مزاج آئينه ده. دا ټوقه، طنز او سنجيده ټول اندازونه لري. هر څو که پښتون نارينه د پښتني معاشرې يو فعال او ضروري کردار دی ولې پښتنه مېرمن هم ورسره د دې معاشرې په اډانه مضبوطولو کښې لوئ لاس لري. په دې چې دا د خپلو روايانو امينه او پالونکې ده. پښتنه مېرمن بې ننګه، بې پته او بې غيرته نارينه ته ښهٔ نهٔ ګوري. دغه وجه ده چې که په دې معاشره کښې چرته څهٔ داسې قسم کردار پيدا شي نو دا يې غندنه کول خپل فرض ګڼي. د مثال په باز په مارغانو کښې ډېر بلند پرواز او تکړه مارغهٔ دی. خود داره هم دی او خود کاره دی. مرداره نهٔ خوري او نهٔ يې بچو له ورکوي. دا هغه صفات دي چې باز يې په ټولو مارغانو کښې افضل کړی دی. ځکه نو پښتو ټپه کښې مېرمنو د زمانو راهيسې د باز استعاره د يو Symbol او آئيډيل کردار په توګه بيا بيا راوړې ده"(4).

رب دې زما د منګل باز کړه

د زړهٔ قطرې به درکوم تا به ساتمه

زما د باز به پرې لاړه

اشنا کوټه وخوت تروټه رابانده دې شونه

باز د بې نيازو په ولقه شو

مرداري غوښې ورکوي شوده به شينه (5)

د پښتونولي ثقافت د پښتون د وجود يو لازمي جز دی بلکې پښتون که پښتون وي نو په دغه ښو Positire کردارونو پښتون دی او که دغه نهٔ وي نو پښتون نهٔ يوازې څوك پاتې کېدی شي بلکې د پښتونولۍ د Codeob Honour نهٔ هم وتی حسابيږي.

هم په دغه اصولي او مثبت خويونه، کردارونو، رسمونو، رواجونو، نرخونو کښې پت، ښېګړه، توره، وفا، ننګ، شرم، حيا، عزت، مېلمستيا، د مشرانو احترام د تور سرو قدر کول اولنۍ او اخيرينۍ نښانې دي.

د پښتنو د خپل ثقافت پښتونولۍ په معيار او دائره کښې دننه ژوند تېرول د هر غير غماز د وس خبره نۀ ده. دا کار صرف او صرف يو پښتانۀ کولی شي او دغه سبق او خويونه هغوئ په خپل کور کښې د ټولو نه مخکښې د خپلې پښتنې مور په غېر کښې اندوه کوي.

د پښتنو خويونه د زده کړې دپاره د ټولو نه زيات او اول د زده کړې مدرسه د خپلې خوږې او پښتنې مور کمال وي او د هغې نه پس د پښتونولۍ د اقدارو د زده کړې دپاره د پښتنو حجره، جمات زيات د اهميت وړ ځايونه دي. د پښتو د دې ټپې نه د پښتونولۍ د زده کړې خوند، رنګ او اندازې نۀ يوازې پته لګي بلکې د حجرې د اهميت او په هغې کښې د ناستې اندازه ترې هم په ښۀ توګه کيږي لکه:

د حجرې ناسته دي زده نۀ کړه

په کټ کښې ناست يې دله خوب دي ځنګوينه (6)

پښتانۀ په خپل سرکښه او درپدره ژوند کښې دومره د اخلاقياتو او د ژوند په نورو ښايستونو د رنګونو د راټولو دپاره که په هر ديار وي يا په هر حال وي خو د هغه په ختمه کښې اخښلي خپل خويونه، رسمونه او د کور کلي د ادابو او معاشرتي طور طريقې په هيڅ ډول شا ته کولو ته تيار نۀ وي، دومره کوټلي نرخونه، لارې چارې چې د پښتانۀ ژوند سره تړلې وي. په يو خاص او منفرد انداز کښې د ليکل شوي قانون نه هم زيات د اولس په دماغو او ذهنونو نقش وي. په دغه د پښتونولۍ په لارو چارو کښې کمې زياتي کول د پښتانۀ د بچي او مشرانو د وس خبره نۀ وي. او ځکه چا شايد ويلي دي:

پښتو د اوسپني چینې دي

زما جانانه! فولادي جوړ کړه غاښونه (7)

دا څۀ هسې د چا له خولې وتلې خبرې نۀ دي، نۀ مبالغه ده، بلکې دا د پښتون د کردار هغه مضبوط صفات او درانۀ قدرونه په ګوته کوي چې هر کجا پښتون نۀ شي جوړېدی.

پښتو ټپې د پښتون دا کردار همېشه او په هر حال کښې ستايلی او ساتلی دی. پروفيسر ډاکټر سلمٰی شاهين ليکي:

"ټپه د پښتنو د کره جذباتو، سپېڅلو احساساتو او کوټلي پښتني کردار ترجمان صنف دی. په دې بنا د دې موضوعات هم د پښتون وګړي د کردار او عمل د ستايني او غندنې هغه نفسياتي رد عمل وي کوم چې د لاشعور نه را زيږي. او د شعوري اظهار په لاره يون کوي. دغه شان د پښتون اولس د جمالياتي، روحاني، فکري حس او جذباتي موضوعاتو بې شماره د خوند ټوټې د ټپو، لنډيو او مصرعو په صورت کښې را پيدا کيږي او سينه په سينه د يو نه بل ته او د بل نه بل ته سپارلی کيږي. دغه شان نۀ يوازې دا چې دا د زمانو راهيسې زمونږ د اولس ادبي تسلسل يو روايت ژوندی ساتي بلکې د معاشرتي ادابو او پښتونولۍ د ناليکلي ائين او دستور د ضابطو تحفظ هم کوي. په ټپه کښې د پښتون د لاشعوري حسياتو او شعوري جذباتو مکمله ترجماني کيږي چې هم د دۀ د شخصيت او انفراديت تحفظ کوي او هم يې د معاشرتي اجتماعيت تړون برقرار ساتي. دا د پښتني ماحول په زړۀ پورې صنف دی. دې ته که د نازکو احساساتو، سپېڅلو جذباتو، رنګينو خيالاتو او د پښتونخوا د مقاميت آئينه ووايو نو بې ځايه به نۀ وي"(8).

لکه دا ټپې مونږ د مثال په توګه پېښ کولی شو:

نن مې همزولې مېلمنې دي

په چم کښې ګرځم بالښتونه ټولومه
زما د پلار حجرې ته راشه
چې درته کښېږدي د زربفتو بالښتونه
حجره د ټول کلي د سره
خو مېلمانهٔ يې زما حال عذر کوينه

طالبه خاورې به ملا شي
په کتاب پروت يې يادوې شينکي خالونه
ذرې ذرې به دي را ټول کړم
لکه کچکول به دي په غاړه ګرځومه
زما دي علم په کار نهٔ دی
د اباسين څپې دي يو سه کتابونه
په ګودر جنګ د جينکو دی
پورې را ووري په منګو ويشتل کوينه (9)

پوهان دا هم وايي چې پښتون د کردار نوم دی يعنې چې په کردار مضبوط نهٔ وي نو هغه پښتون کېدی نهٔ شي او دا خبره ډېره زوروره ده او په حقيقت مبني ځکه ده چې پښتانهٔ ټول عمر له په پښتو کولو او پښتو پاللو کښې د همېش دپاره يا خو تاواني پاتې شوې دي او يا د سرېتوب هغه حد ته رسېدلی دی چې پسې قدم اخستل د بل چا د وس کار نهٔ دی پاتې شوی.
د پښتون په دغه کردار کښې چې لوئ کوم اقدار دي هغه شرم، حيا، پت، ننګ، عزت، بدل، جرګه، ننواتې، توره، وفا، ښېګړه، غرض دا چې د ژوند

ټول مثبت اړخونه او کردارونه را واخلې نو د پښتون کردار او وجود ترې جوړ شي. دغه د پښتون وجود، کردار بیا د پښتو تقریباً ټولې اولسي شاعري د شاعر تخیل په زور په خپل جدا جدا صنفونو کښې په جدا جدا رنګ کښې را ټول ساتلی دی. خو؟ کوم کمال چې پښتو ټپې په دغه حقله ښودلی دی. یا د پوره پښتون ثقافت تصویر او تفسیر چې ټپې په خپل وړوکي او روماني وجود کښې را نغښتی دی. دا یقیناً چې مافوق الفطرت شان خبره ښکاري. د انسان د پیدائش نه واخله تر زلمیتوب پورې هر ښه او ښکاره کارونه په زړه پټ بې حسابه رازونه، د خپل لېونتوب د ورځو شپو روداونه، د یوې پښتنې پېغلې ارمانونه، د زړۀ په کور د چا د ځوانۍ د تصویر نقش او نور ډېر د پښتني معاشرې رنګونه، هلې ځلې او په تېره تېره د پښتنو اخلاقیاتو ټول اړخونه، سرکښي او خوارۀ پاستهٔ کارونه، کردارونه صرف او صرف پښتو ټپې داسې د ځان سره ځان کړي دي چې دا دنیا اباده وي نو د پښتون کردار او پښتونولۍ پېژندګلوي په پوره پوره یوازې د پښتو ټپې نهٔ کېږي او که څوك دغه کمال او امتیاز نهٔ مني نو دا ټپه دې بار بار لولي چې:

ښــــه ده چـــــې دواړه پښـــــتانهٔ یــــــو

ســــتا لوپټـــه زمــــا بیـــر بریتونــــه

# حوالې

(1) طائر، محمد نواز، پروفیسرو ټپه او ژوند، پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي، 1980ء مخ 15.

(2) ختک، راوج ولي شاه، ډاکټر، د پښتو ادبي تحریکونه، پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي 1989ء مخونه 22، 23.

(3) همدغه، مخ 23.

(4) شاهین، سلمیٰ، پروفیسر، روهي سندرې، دویم جلد، پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي 1994ء مخونه، 32، 33.

(5) همدغه، مخ 33.

(6) شاهین، سلمیٰ، روهي سندرې، جلد اول، پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي، 1984ء، مخ 309.

(7) شاهین، سلمیٰ، روهي سندرې، دوئم جلد، پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي، 1984ء، مخ 21.

(8) همدغه، مخ 34، 35.

(9) همدغه، مخ 35.